AFGHANISTAN CONFERENCE 2022
HIGH-LEVEL PLEDGING EVENT ON SUPPORTING THE HUMANITARIAN RESPONSE IN AFGHANISTAN

خبري اعلامیه

## د بشردوستانه بسپنه ورکوونکو څخه وغوښتل شول چې د افغانستان لپاره یو ځل بیا هڅې ګړندۍ کړي

- افغانستان په یوه بشري ناورین کې راګیر دی چې ۲۳ میلیونه وګړي یې د خوراکي توکو له سخت کمښت سره مخامخ دي. موږ ته پکار ده چې اوس لاس په کار شو ترڅو د وضعیت د خرابیدو مخه ونیسو
- بشردوستانه ادارو مرستې ډیرې کړي او پراخولو ته یې چمتو دي او د مرستو په رسولو کې د ښځو پر مرکزي رول ټینګار کوي.
- د ملګرو ملتونو، انګلستان، جرمني او قطر د حکومتونو په ګوربه توب، بسپنه ورکوونکي نن غونډه کوي ترڅو د اړینو بشري مرستو ژمنه وکړي.
- د ژمنې کنفرانس دلته د 1500 CET / 0900 ET بجو په ژوندۍ بڼه خپریږي. د کنفرانس څخه مخکې د مطبوعاتي کنفرانس د ویډیو فایل ډاونلوډ کولو لینک دلته دی او د افغانستان عکسونه دلته په وړیا ډول د لاسرسي وړ دي.

(جنیوا، د ۲۰۲۲ کال د مارچ ۳۱): تېر کال نړیوالو مرستندویانو له اړمنو افغانانو سره د پام وړ سخاوت وښود. د ۱.۸ ملیارده ډالرو په مصرفولو سره، مرستندویه ډلې وتوانېدې چې ۲۰ ملیونه خلکو ته ژوند ژغورونکي خواړه، پاکې اوبه، روغتیایي خدمتونه، د خوندیتوب اړوند مرستې، سرپناه، تعلیم او ژمني توکي ورسوي، ځکه چې افغانستان د ژور ناورین او نړیوالې انزوا څخه تیریږي.

نن ورځ، بسپنه ورکوونکي د مرستو د جاري ساتلو او ډیرولو لپاره غونډه کوي. د ملګرو ملتونو له خوا د مرستو همغږي شوي عملیات – تر ټولو لویه غوښتنه ده او په افغانستان کې یواځینۍ غوښتنه هم نه ده – د ۴.۴ میلیارده ډالرو غوښتنه کوي، چې په ۲۰۲۱ کال کې د غوښتل شوي مقدار درې برابره ده.

بسپنې راټولولو تر دې دمه د ۲۰۲۲ د بشردوستانه غبرګون پلان یوازې ۱۳ سلنه اړتیاوې پوره کړي دي.
د نن ورځې د ژمنې کنفرانس کې، چې د ملګرو ملتونو، انګلستان، جرمني او قطر په ګوربه توب ترسره کیږي، د مرستو د چټکو رسولو لپاره د مرستو ژمنو ته په عاجله توګه اړتیا لیدل کیږي. د بسپنو راټولول به د پاتې کال تر پای دوام ومومي.

د کلونو جګړه په افغانستان کې د اوږدمهاله کړاو سبب شوې ده. اوس هیواد د اقتصادي سقوط او په ۳۰ کلونو کې د تر ټولو بدې وچکالۍ سره مخ دی چې بېساري اړتیاوې رامینځته کوي. مرستندویه سازمانونه خبرداری ورکوي، په داسې حال کې چې بیړنی غبرګون اړین دی، دا په افغانستان کې د ټولو اړتیاوو د پوره کولو لپاره بسنه نه کوي. اقتصاد، د دولت

اساسي بنسټونه او د اړینو خدماتو وړاندې کول باید وساتل شي ترڅو د خوراکي توکو د خوندیتوب او ټولنیز جوړښت کې د خرابیدو مخه ونیول شي.

له ۲۴ ملیونو څخه ډیر خلک - یا د نفوس ۶۰ سلنه - د ژوندي پاتې کیدو لپاره بشري مرستو ته اړتیا لري. اړتیاوې د تېر کال په پرتله ۳۰ سلنه لوړې دي او سخته لوږه د نیم نفوس لپاره ورځنی واقعیت دی. بنسټیز روغتیایي، ښوونه او روزنه او نور خدمتونه سخت ځپل شوي دي، معیشت په ټپه دریدلی او کورنی د خپل لږ عاید ۸۰ سلنه په خوراکي توکو لګوي.

د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال او د بشردوستانه چارو او د بیړنیو مرستو همغږي کوونکي، مارټین ګریفیتس وویل: "موږ دا توان لرو چې په افغانستان کې د بشردوستانه مخ پر ځوړ روان بهیر مخه ونیسو او دا زموږ اخلاقي دنده ده چې نن ورځ د سخاوتمندانه، انعطاف وړ او غیر مشروط بسپنو په ژمنه کولو دا ځواک وکاروو. په دې توګه بشردوستانه فعالین کولی شي اوس چارې پراخې کړي او د خلکو ژوند وژغوري."

د بریتانیې د بهرنیو چارو وزیرې لیز ترویس وویل: "بریتانیا د افغانانو د ملاتړ په خاطر هیوادونو سره راټولوي او د ژوند لپاره د اړینو خوړو، سرپناه او روغتیایي توکو په چمتو کولو کې مخکښ دی. له متحدینو او شریکانو سره په ګډه، موږ کولی شو ډیر څه وکړو او له افغانستان سره به د مرستو لپاره ډېر څه وکړو."

د قطر د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي سلطان بن سعد المریخي وویل: "د بشري وضعیت د ښه والي مهم عامل د تلپاتې سولې لاسته راوړنه ده. له همدې امله، د قطر دولت په تېرو کلونو کې دې مطلوب هدف ته د رسېدو لپاره پراخې او بریالۍ هڅې کړې دي. په افغانستان کې د بشري وضعیت د دوامداره خرابیدو، اقتصادي سقوط، او په افغانستان کې د ژوندي پاتې کیدو لپاره بشري مرستو ته د ارمنو خلکو په شمېر کې ډیروالي سره، دا زموږ ټولیز مسوولیت دی چې په خپلو ژمنو ودریږو او د اړتیا وړ بشري او مالي مرستې چمتو کړو."

د ۲۰۲۲ په لومړیو اتو اونیو کې، بشردوستانه همکارانو ۱۲.۷ ملیون خلکو ته ژوند ژغورونکې مرستې رسولې، چې ښځو، نجونو او لږکیو ډلو ته یې لومړیتوب ورکول شوی.

په مرستو کې د سلګونو زره خوارځواکه ماشومانو، امیدوارو او شیدې ورکوونکو میرمنو لپاره مغذي خواړه؛ د ښوونځیو د ماشومانو لپاره مغذي خواړه؛ کروندګرو ته د تخمونو او وسایلو ورکول؛ په اساسي مهارتونو د بېکاره کارګرانو روزل؛ د زیان منونکو ډلو د خوندیتوب سره مرستې؛ په ټولنو کې د پاکو اوبو رسولو ډاډ؛ او د صدمې موندونکو (تروما کېسونو) درملنه او د زیږون روغتیا پاملرنې څخه ملاتړ شامل دی.

د سخاوتمندانه ژمنې په کولو سره، نړۍ کولی شي د افغانستان خلکو ته، چې لا دمخه یې ډېرې سختې کالې، د پیوستون یو پیاوړی سیګنال واستوي.

د نن ورځې په لوړه کچه غونډه کې به د ملګرو ملتونو سرمنشي ښاغلی انتونیو ګوتریش پرانیستونکې وینا وکړي. له هغه سره به د قطر د لومړي وزیر مرستیال ښاغلی شیخ محمد بن عبدالرحمن آل ثاني، د بریتانیا د بهرنیو چارو وزیره آغلې الیزابت تروس؛ د آلمان د بهرنیو چارو فدرالي وزیر انالینا بیرباک؛ او د ملګرو ملتونو د بشردوستانه چارو او د بیړنیو مرستو همغږي کونکی مرستیال سرمنشي مارتین ګریفیتس هم یوځای شي. غړي هیوادونه او شریکان به هم په خبرواترو کې برخه واخلي.

د غونډې په اړه نور معلومات دلته کتلی شئ

**د رسنیو اړیکې**

جینس لایرکي، د ملګرو ملتونو د بشر دوستانه چارو د همغږۍ دفتر: laerke@un.org
د انګلستان د بهرنیو، مشترک المنافع او پراختیا دفتر خبري مېز:newsdesk@fcdo.gov.uk
اندړس فېل، د جرمني د بهرنیو چارو وزارت: s07-5@auswaertiges-amt.de
عایشه المهنادي، د قطر د بهرنیو چارو وزارت: aralmuhannadi@mofa.gov.qa